د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې
د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه




د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان ارزونه

# اقتصاد وزارت

۱۳۹۶ کب

/MEC_Afghanistan

www.mec.af

/mec.afghanistan

# مخففات

| | |
|---|---|
| *ACP* | له اداري فساد سره د مبارزې پلان |
| *CBR* | د پايلو لپاره ظرفيت جوړونه |
| *GIRoA* | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت |
| *IARCSC* | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون |
| *MEC* | د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کميټه |
| *MoEc* | د اقتصاد وزارت |

# د راپور لنډيز

په ۱۳۹۵ کال کې د افغانستان په هکله له بروکسل کنفرانس څخه مخکې د افغانستان د اسلامي جمهوريت ولسمشر د افغانستان عايداتي وزارتونو ته لارښوونه وکړه، چې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پلانونه جوړ کړي، تر څو د دوی په کړنو او فعاليتونو کې له شفافيت څخه ډاډ تر لاسه شي. په ورته وخت کې د متقابلې حسابورکونې د کاري چوکاټ له لارې د په ځان بسيانې سند(*SMAF*) د افغانستان جمهوري اسلامي دولت پنځه عايداتي وزارتونه مکلفوي، چې د اداري فساد پر وړاندې خپل پلانونه وړاندې او د پلي کولو د پرمختګ راپور يې عامو خلکو ته وړاندی کړي. وروسته د اقتصاد وزارت په ګډون پاليسي جوړونکو وزارتونو ته دنده وسپارل شوه، چې دا لړۍ تعقيب کړي.

د فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډه خپلواکه کميټه د اداري فساد پر وړاندې د ټولو وزارتونو  پلانونه ارزوي او اوس د افغانستان د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان د پرمختګ څارنيز راپور خپروي.

هغه پلان چې د فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې خپلواکې کميټې ته ښودل شوی، د څلورو لومړيتوبونه تر عنوان لاندې ۲۴ فعاليتونه لري. د اقتصاد وزارت له فساد سره د مبارزې پلان او په دې برخه کې د شوو پرمختګونو د ارزونې لپاره د څارنې او ارزونې کميټې ۲۴ مرکې او ګروپي بحثونه د هغو د اړوندو اسنادو  له سپړنې او تحليل سره يو ځای تر سره کړي.

# عمومي موندنې

| |
|---|
| د افغانستان اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان د تطبيق اړوند ډېر پرمختګونه کړي؛ خو لا هم ډېر کارونه پاتې دي، چې بايد تر سره شي. |

د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې هر اړخيز پلان جوړ او تدوين کړی، او پدې توانيدلی چې هغه واحدونه او اداري چې د فساد په وړاندې ډيرې زيانمنونکې دي تر پوښښ لاندې راولي. د پلان ټاکلې موخې له (*SMART*) معيارونو سره سمې چمتو شوي چې دې کار د پلان د پلي کولو څخه څارنه اسانه کړيده. د فعاليتونو د پرمختګ اندازه او سنجونه دا په ډاګه کوي، چې د توقع وړ پايلې په يوه ځانګړې کچه تر لاسه شوې دي.

خو د يادولو وړ ده چې  د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان د خطر د ارزونې پر بنسټ نه دی چمتو شوی. معمولاً د فساد ضد پلانونه بايد د خطر د ارزونې په رڼا کې جوړ شي. په اقتصاد وزارت کې د خطر نه ارزونه د فساد پر وړاندې د مبارزې د يو اړخيز پلان د طرحې او جوړېدو لامل شوې. که څه هم پلان په وزارت کې له فساد څخه د زيانمنو په هکله د ځينو سرچينو موندنو ته اشاره کوي؛ خو دې کار د خطر د ټاکلې ارزونې  تخنيکي تشه نه ده ډکه کړې. د بېلګې په توګه د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان کې د مشاورينو د ګومارلو موضوع نه ده راغلې. په نورو وزارتونو کې د څارنې او ارزونې کميټې موندنې ښيي، چې د مشاورينو د ګومارلو لړۍ د فساد پر وړاندې ډيره  زيانمنونکې ده. د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان له طرحې او تدوين مخکې، د خطر ارزونې د نشتوالي له امله د وزارت د مشاورينو ګومارلو پروسې يوه ستره پوښتنه رامنځته کړې، چې ايا په اقتصاد وزارت کې دغه واحد زيانمنونکی دی او که نه؟

د اړوند ادارو سره د پلان سمه همغږي يوه بله وسيله ده، چې په يوه اداره کې د پلان د سم او اغيزمن تطبيق ته لاره هواروي. دا کار د اړوندې ادارې د کارکوونکو د مالکيت حس پياوړی کوي. خو د اقتصاد وزارت پلان له کارکونکو سره په سمه توګه ندی همغږۍ شوي او په وزارت کې دننه يو شمير ادارو د داسې يو پلان د شتون په اړه ناخبري ښودلې ده.

# سریزه

## د اداري فساد پر وړاندې د اقتصاد وزارت پلان (ACP)

د اقتصاد وزارت د افغانستان د اسلامي جمهوریت یو له مهمو پالیسي جوړوونکی وزارتونو څخه دی. دا د اقتصاد وزارت دنده ده چې د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پالیسي او ستراتیژي د ازاد بازار پر بنسټ طرحه او تدوین کړي او د هېواد په کچه اقتصادي خدمتونه وڅاري. دې موخې ته د رسیدلو او د هیواد د اقتصادي سکتور د اصلاح لپاره، اقتصاد وزارت ته پکار دي، چې د فساد پر وړاندې مبارزه وکړي. د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره جدي هڅې پیل کړې. د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان طرحه او تدوین د فساد پر وړاندې د یاد وزارت د هڅو یوه برخه تشکیلوي.

خو پوښتنه دلته ده چې آیا د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان هر اړخیز او اغیزمن دی که نه؟ دا هغه پوښتنه ده چې د څارنې او ارزونې کمیټه یې د ځواب په لټه کې دی. یادې کمیټې د اقتصاد وزارت د اداري فساد سره د مبارزې پلان ارزولی او پایلې یې اوس دې راپور په ترڅ کې خپروي.

راپور په عمومي توګه په دریو برخو وېشل شوی دی:

١. د طرحې او تدوین پړاو:

په دغه پړاو کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان د طرحې او تدوین ټول اړخونه شاملېږي.

٢. د پلي کولو پړاو:

دا پړاو د هغو فعالیتونو پلي کول په ځان کې رانغاړي، چې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پلان د هر لومړیتوب لپاره ټاکل شوي دي.

٣. د څارنې او ارزونې پړاو:

د څارنې او ارزونې برخه راپور ورکوي، چې آیا د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پلان د اقتصاد وزارت لخوا په بشپړ ډول تعقیب او څارل شوی دی او که نه.

د اقتصاد وزارت له مرستې او همکارۍ پرته به د فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه په دې نه وای توانېدلې، چې ددغه وزارت د فساد سره د مبارزې پلان وڅېړي. نو د دغه راپور په چمتو کولو کې د اقتصاد وزارت د رهبرۍ له همکارۍ او تخنیکي ملاتړ څخه ډېره مننه کوو.

# د څارنې او ارزونې کمیټې(*MEC*) د بیا کتنې او څېړنې میتود

د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان بیاکتنه د دې لپاره ترسره شوه، چې د وزارت لخوا د پلان د پلي کولو د پرمختګ کچه معلومه شي. د دې لپاره چې د پلان شاخصونه په سیستماتیکه توګه وارزول شي، د څارنې او ارزونې کمیټې (*MEC*) لومړی ټول اړوند اسناد مطالعه او په دې برخه کې شته ټولې پالیسۍ او کړنلارې راټولې او بیا یې په ډېره دقیقه توګه وڅېړلې. وروسته د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان کې تسجیل شوي  شاخصونه د ژورو مرکو، ګروپي بحثونو او د راټول شویو اسنادو د بیا کتنې له لارې تر تحلیل او څېړنې لاندې ونیول شول.

د دغه راپور لپاره د څارنې او ارزونې کمیټې، د اقتصاد وزارت له چارواکو او دوو نا دولتي موسسو سره ۲۴ مخامخ مرکې کړې دي. همدارنګه یادې کمیټې د اقتصاد وزارت اړوندو ریاستونو له منځني او ټیټ پوړو کارکونکو سره ګروپي بحثونه هم ترسره کړي. پر دې سربېره په ګروپي بحثونو کې د ګډونوالو د نظرونو او استدلالونو د تایید په موخه د ساحې څخه لیدنه هم وشوه.

وروسته دغه راپور له اقتصاد وزارت سره شریک شو، تر څو د سپارښتنو د کره والي او عملیتوب په هکله خپل نظریات وړاندې کړي.

# د طرحې او تدوين پړاو:

د اقتصاد وزارت مشرتابه د یاد وزارت د مالي او اداری معین په مشرۍ یوه کمیټه جوړه کړه، چې د دغه وزارت د فساد سره د مبارزې پلان ترتیب او تدوین کړي. د داخلي تفتیش، تدارکاتو، مالي، بشري سرچینو، نا دولتي موسسو (انجوګانو)، د طرحې او توحید، پالیسۍ او مدیریت ریاستونو رییسان او د وزارت مقام د دفتر ریاست د یادې کمیټې غړي دي.[1] دې کمیټې د خپلو غړو د تجربو او د بهرنیو سرچینو له سروې ګانو څخه په ګټې اخیستنې په یاد وزارت کې هغه برخې چې د اداري فساد په وړاندې زیانمنونکې دي مشخصې او په ډاګه کړې دي. د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان په پوره دقت د لاندې څلورو اساسي لومړیتوبونو پر بنسټ جوړ شوی.[2]

| |
|---|
| **اداري اصلاحات، غوره مدیریت او ښه رهبري** |
| **په بشري سرچینو کې روڼتیا او ځواب ورکول** |
| **په تدارکاتي پروسو کې روڼتیا او ځواب ورکول** |
| **د غیر دولتي موسسو په کړنو او فعالیتونو کې روڼتیا او ځواب ورکول** |

د دغو لومړیتوبونو د لاسته راوړلو لپاره کمیټې ۲۴ کړنې او فعالیتونه ترتیب کړي. د پلي کولو او تطبیق د کچې د ارزونې په موخه، هر فعالیت د SMART معیار د شاخصونو او لومړني حالت (baseline ) پر اساس جوړ شوی دی. دې پلان د فعالیتونو متوقعه پایلې هم په پام کې نیولې دي. پر دې سربېره، یاد پلان ځانګړې موخې، مسئوله اداره او د پلي کیدو وروستۍ نېټه (ضرب الاجل) هم لري.

خو د پلان د ترتیب او تدوین پړاو له نیمګړتیاوو خالي نه دی. د پلان له طرحې او تدوین مخکې په وزارت کې د احتمالي خطرونو نه ارزونه یوه ستره نیمګړتیا ده.[3] هره اداره د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان له طرحې او تدوین مخکې باید د خطرونو ارزونه وکړي، تر څو خپلې زیاتې سرچینې د هغو برخو د اصلاح لپاره ځانګړې کړي چې د فساد په وړاندې ډېر زیانمننونکې دي. د اقتصاد وزارت د احتمالي خطرونو هېڅ ډول ارزونه نه ده ترسره کړې. نو له دې امله یاد وزارت د داسې یوې ارزونې په نه شتون کې دا نشي تشریح کولای چې د اداري فساد سره د مبارزې پلان فعالیتونه یې په کوم اساس اولویت بندي کړي دي او د احتمالي خطرونو نه ارزونه د دې لامل شوی چې په پلان کې ځینې زیانمنونکو برخو ته پام ونه شي، چې د بېلګې په ډول د اقتصاد وزارت د مشاورینو ګمارنې لړۍ او تر ۵۰۰۰۰ افغانیو ټیټو خریداریو پروسې ته اشاره کولی شو. هغه ارزونې چې د څارنې او ارزونې کمیټې لخوا په نورو وزارتونو کې تر سره شوې، دا په ډاګه کوي چې د مشاورینو د ګومارلو موضوع او له ۵۰۰۰۰ افغانیو ټیټو خریداریو پروسه د فساد په وړاندې ډېره زیانمننونکې ده.څرنګه چې د اقتصاد وزارت د احتمالي خطرونو ارزونه نده تر سره کړې او نه یې هم په دې هکله د اداري فساد سره د مبارزې پلان کې څه ویلي ، نو د څارنې ټیم په دې هکله څه نه شي ویلای ځکه چې په دې نه پوهیږي چې نوموړې پروسې د اقتصاد په وزارت کې د نورو وزارتونو په شان د اداري فساد پر وړاندې زیانمنې دي که نه؟ سربېره پر دې د اداري فساد د زیانمننو د تشخیص په موخه د یوې کمیټې رامنځته کول د هغو بنسټونو او سازمانونو لپاره یوه غوره تګلاره ده، چې د سرچینو د کمښت سره مخ وي ، ددې پر ځای چې د احتمالي خطرونو ارزونه ترسره کړي. ان که چیرې د اقتصاد وزارت داسې استدلال هم کوي چې دوی د احتمالي خطرونو د ارزونې لپاره پوره سرچینې په لاس کې نه درلودې، کم تر کمه یاد وزارت کولای شول چې په دې برخه کې د ښکیلو او ذینفعو لورو لکه د نادولتي سازمانونو او مدني ټولنې استازو په ښکیلولو سره، یاده کمیټه پراخه کړي.

د اداري فساد سره د مبارزې پلان د طرحې او تدوین پړاو وروستۍ نیمګړتیا دا ده چې یاد پلان د اقتصاد وزارت د اړوندو ادارو

---

[1] د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶، د مرغومي ۶مه ـ کابل، افغانستان

[2] د فساد پر وړاندې د اقتصاد وزارت د مبارزې پلان ۱۳۹۶ ـ کابل، افغانستان

[3] د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶، د مرغومي ۶مه ـ کابل، افغانستان

او واحدونو سره همغږی او تفهيم شوی نه دی.[4] سمه همغږي د پلان د طرحې او تدوين پړاو يو له مهمو برخو ګڼل کيږي ، چې موخه يې په دې برخه کې د تر لاس لاندې ادارو او کارکونکو ښکيلول دي، چې له يوې خوا هغوی د پلان په اړه د مالکيت حس ولري او له بلې خوا يې په برياليتوب سره پلی کړي. له بده مرغه، د اقتصاد وزارت مشرتابه  ياد پلان له خپلو فرعي واحدونو او اړوندو ادارو  سره په سمه توګه تفهيم او شريک کړی نه دی. له دې امله، کله چې د څارنې او ارزونې کميټې ټيم له هغوی څخه د هغو فعاليتونو په هکله چې د  اداري فساد سره د مبارزې پلان پر بنسټ دويې پر تطبيق او پلي کولو موظف شوي وو، وپوښتل ، هغوی هک پک حيران شول. د څارنې ټيم موندنې ښيي چې ان د ياد وزارت د  رياستونو په کچه هم کارکونکي او مسوولين د اداري فساد سره د مبارزې د پلان له شتون څخه نا خبره دي.

# د پلي کولو پړاو

د اقتصاد وزارت په دغه پلان کې  ۲۴ فعاليتونه ذکر کړي او ځانګړو ادارو ته يې د پلي کولو او تطبيق دنده سپارلې. د څارنې او ارزونې کميټې د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان هر فعاليت له اړوندو واحدونو او ادارو سره د بيلابيلو مرکو له لارې ارزولی او د ياد پلان د ټاکل شويو لومړيتوبونو د تطبيق په اړه خپلې موندنې د وخت په ترتيب سره په لاندې ډول وړاندې کوي.

## ۱. اداري اصلاحات، غوره مديريت او ښه رهبري

دا لومړيتوب ۱۱ فعاليتونه او ۲۱ شاخصونه لري. د پلان د اول لومړيتوب د فعاليتونو حالت په لاندې ډول تشريح شوی دی:

| موخه | فعاليت | شاخص | مسئول واحد | پايله | لومړی نېټه | وروستی نېټه | خطر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د فساد پېژندنه | د شکايتونو د تر لاسه کولو او هغو ته د رسېدنې لپاره وړتيا لوړول | د شکايتونو د تر لاسه کولو او هغو ته د رسيدګۍ لپاره دفتر جوړ شوی.<br>د شکاياتو ته د رسيدنې لپاره يوه تليفوني شمېره او نور ميکانيزمونه جوړ شوي.<br>د ارزونې يو نوی مېتود جوړ شوی.<br>شکايتونو ته رسيدګي هم بشپړه شوې.<br>يو پروګرام جوړ شوی، تر څو د ولاياتو په کچه شکايتونو ته رسيدګي وشي.<br>د ولاياتو په کچه دفترونه جوړ شوي، تر څو شکايات واخلي او رسيدګي ورته وکړي. | | | | | |

### موندنې:

څرنګه چې د فساد تشخيص او پېژندنه د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره يو مهم ګام دی، د اقتصاد وزارت «د شکايتونو تر لاسه کول او هغو ته رسېدنه» د فساد پر وړاندې د مبارزې په پلان کې د لومړي فعاليت په توګه ځای پر ځای کړی. د څارنې او ارزونې کميټې موندنې ښيي چې د شکاياتو دفتر لا تر اوسه نه دی جوړ شوی، چې شکايات تر لاسه کړي. او اوسمهال يوه کميټه چې د ريس د دفتر، داخلي تفتيش او د وزير د دفتر رييس پکې ګډون لري نوموړې دنده پر مخ بيايی.[5] دا کميته هره پنجشنبه د شکايتونو صندوقونه پرانيزي او د يکشنبې په ورځ د رهبرۍ په ناسته کې شکايات



[4] د اقتصاد وزارت له ټيټې کچې کارمندانو سره مرکه، ۱۳۹۶ د مرغومي ۴مه – ۱۳۹۶، د مرغومي ۲۵مه، کابل، افغانستان
[5] د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶، د مرغومي ۹مه ــ کابل، افغانستان

ګوري او رسیدګي ورته کوي.

په وزارت کې د شکایتونو د دفتر نشتوالی د دې لامل شوی، چې شکایت کوونکي خپل شکایتونه په بېلابېلو منابعو کې ثبت کړي او شکایتونه په یوه سیستم کې نه ثبتیږي. کمیټه یوازې د هغو صندقونو شکایتونو ته رسیدګي کوي، چې د وزارت په دواړو تعمیرونو کې ځای پر ځای شوي. یو شمېر سرچینې شکایتونه اخلي او هېڅ یوه یې هم وزارت ته د راغلو شکایتونو منظم جزییات د ځانه سره نلري. کله چې د فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې خپلواکې کمیټې له وزارت څخه د تېر کال شکایتونو په هکله مالومات وغوښتل، هغوی یوازې څلور شکایتونه د شکایتونو له صندوق څخه راټول کړي وو.[6] دا چې شکایتونه دومره لږ دي، دلیل یې دا دی چې جوړ شوي میکانیزمونه په سمه توګه له عامو خلکو سره د عامه پوهاوي له لارې نه دي شریک شوي یا هم عام وګړي پر دغو پروسیجرونو باور نه لري.

د شکایتونو پر دفتر سربېره، وزارت دا هم پلان کړې وه، چې د شکایتونو د اخیستو لپاره یوه شمېره فعاله کړي؛ خو د کافي بودیجې د نشتوالي له امله دا کار ندی ترسره شوی.[7] خو د اقتصاد وزارت چارواکي وایي، چې وزارت د ۱۳۹۷ کال په بودیجه کې د عامه وګړو د شکایتونو د اورېدو په موخه د اړیکې یوې شمېرې ته پیسې ځانګړې کړې دي. د ولایاتو د شکایتونو سیستم لا تر اوسه نه دی فعال شوی. له دې امله د ولایاتو شکایتونو ته د رسېدنې لپاره هېڅ سیستم نشته، تر څو یې شکایتونه واورېدل شي.

| موخه | فعالیت | شاخص | مسئول واحد | پایله | لومړی نېټه | وروستی نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په عملیاتي او اجرایي پروسو کې د فساد په وړاندې د زیانمنو برخو کمول | د معیاري عملیاتي پروسیجرونو رامنځته کول، ساده کول، تعریفول او ارزونه | ۱. د عملیاتي پروسو ارزونه او بیاکتنه،<br>۲. د عملیاتي پروسو ساده کول او بیا تعریفول. | | | | | |

## موندنې:

د اقتصاد وزارت یو معیاري عملیاتي کړنلاره (SOP) رامنځته کړې او د ۱۸ ریاستونو ګډې او پېچلي پروسې یې ساده کړي.[8] د پروسیجرونو ساده کول له فساد سره د مبارزې لپاره یو غوره ګام دی. د ټیم څېړنې دا په ډاګه کوي چې معیاري عملیاتي کړنلارې او پروسیجرونه د عامو وګړو د لاسرسي لپاره د خبرتیاوو په لوحو نصب شوي. دغو کړنلارو او پروسیجرونو د هر ریاست د فعالیتونو لپاره جدي مهالویش ټاکلی ، چې د هغوی د فعالیتونو د روڼتیا لامل ګرځېدلی. خو مهمه ستونزه دا ده، چې داسې کومه تګلاره نشته، چې کړنلارې او پروسیجرونه ساده کړي او دا د پروسیجرونو د ساده کولو په هکله د شخصي قضاوتونو لامل ګرځي.

---

[6] د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶، د مرغومي ۹مه ـ کابل، افغانستان

[7] د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶، د مرغومي ۹مه ـ کابل، افغانستان

[8] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د اقتصاد وزارت تګلاره، [۳]، ۱۳۹۶

| موخه | فعالیت | شاخص | مسئول واحد | پایله | لومړۍ نېټه | وروستۍ نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په اقتصاد وزارت کې «معلوماتو ته د لاسرسي قانون» پلي کول | په اقتصاد وزارت کې «معلوماتو ته د لاسرسي قانون» د پلي کولو لپاره د شرایطو او غوښتنو ارزونه. «معلوماتو ته د لاسرسي قانون» د پلي کولو لپاره د یوې تګلارې جوړول. د اقتصاد وزارت د دفتر په ریاست کې معلوماتو ته دلاسرسي په شعبه کې د یوه مدیر او یوه کارمند ګومارل. | اړین ګامونه په پام کې نیول شوي، تر څو د معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره د خلکو غوښتنو ته ځواب وویل شي. | | | | | |

## موندنې:

معلوماتو ته لاسرسی د افغانستان د خلکو له بنسټیزو حقوقو څخه دی.[9] دا په اساسي قانون کې تضمین شوی، ځکه چې دا عامو وګړو ته داړ ورکوي چې په دولتي ارګانونو کې روڼتیا او حساب ورکونه شته. د دغه قانوني اصل په رڼا کې د اقتصاد وزارت د عامه وګړو لپاره معلوماتو ته لاسرسی د فساد پر وړاندې د مبارزې په پلان کې ذکر کړی او لومړیتوب یې ورکړی. خو له بده مرغه، هغه فعالیتونه چې د قانون پر پلي کولو ټینګار کوي، نه دي پلي شوي. د بېلګې په توګه یاد وزارت کومه ارزونه نه ده تر سره کړې، چې د قانون د پلي کولو لپاره اړین شرایط په ډاګه کړي. همدارنګه وزارت په دې کې پاتې راغلی چې د وزارت مقام په دفتر کې یو مدیر وګوماري او د قانون د پلي کولو لپاره څرنګه چې د فساد پر وړاندې د مبارزې په پلان کې یې وړاندیز شوی، اړین پروسیجر او ستراتیژي رامنځته کړي.[10] که څه هم د اقتصاد وزارت چارواکي ادعا کوي چې یوه کمیټه یې رامنځته کړې، چې د عامه پوهاوي لپاره یو پروسیجر جوړ کړي او دا به نږدې وختونو کې جوړ شي. پر دې سربېره د اقتصاد وزارت د ۱۳۹۷ په تشکیل کې د مدیریت یو بست په پام کې نیولی او د نوي تشکیل په منظورۍ سره به وګومارل شي.

| موخه | فعالیت | شاخص | مسئول واحد | پایله | لمړۍ نېټه | وروستۍ نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دا ډاډ تر لاسه شي چې د اقتصاد وزارت چارواکي له خپلو موقفونو څخه ناوړه ګټه نه اخلي. | په ولایتونو او مرکز کې د اقتصاد وزارت د لوړپوړو چارواکو، رییسانو او آمیرینو د ملکیتونو ثبت | په کلنۍ توګه د اقتصاد وزارت د لوړپوړو چارواکو شتمنۍ ثبتېږي. | | | | | |

## موندنې:

د دولت د لوړپوړو چارواکو د شتمنۍ ثبت او  تصدیق د فساد پر وړاندې د مبارزې د نړۍ په کچه منل شوې قاعده ده. دا د افغانستان

[9] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د اساسي قانون، ۵۰ ماده

[10] د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، کابل، افغانستان

په دولتي ارګانونو کې پلي کیږي چې د اقتصاد وزارت یې یوه برخه ده. د ثبت او څېړنې لړۍ له اداري فساد سره د مبارزې د عالي اداري (*HOO*) لخوا رهبري کیږي. د هر کال په پای کې هر ارګان ته ځانګړي فورمونه لېږي او له دولتي چارواکو څخه غوښتل کیږي چې د خپلو ملکیتونو جزییات وړاندې کړي. که څه هم د فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې خپلواکې کمیټې موندنې دا ښیي چې شتمنۍ له فساد سره د مبارزې د عالي ادارې لخوا په سمه توګه نه څېړل کیږي، چې دا یوه ستره اندیښنه ده[11]. په اقتصاد وزارت کې، له فساد سره د مبارزې عالي اداري تر اوسه د یاد وزارت د چارواکو او مسوولینو د نا قانونه شتمنیدو په اړه هیڅ راپور نه دی ورکړی. نو سخته ده چې ادعا وشي، چې په دې برخه کې پایلې بشپړې تر لاسه شوې دي. لنده دا چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د شتمنیو د ثبت او څېړنې قانون تصویب کړی او د دغه نوي قانون پر بنسټ د جمهوري ریاست د چارو ادارې د عمومي ریاست په تشکیل کې یوه نوې اداره رامنځته کېږي او دا دنده به له فساد سره د مبارزې له عالي ادارې څخه یادې نوې ادارې ته ولېږدول شي.

| موخه | فعالیت | شاخص | مسئول واحد | پایله | لومړۍ نېټه | وروستۍ نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| له بشري حقونو او د جندر له مساواتو څخه دفاع | د بشري حقونو او جندر مساواتو په رڼا کې د اساسي تصمیمونو، د سرچینو د تخصیص، د پراختیاي پروګرامونو جوړولو سپړنه او بیاکتنه | د جندر برخې استازی باید په هره ګومارنه کې ګډون وکړي. د جنرر رییس باید د وزارت د رهبرۍ شورا (وزیر، معینانو او رییسانو) په ناستو کې ګډون کوي. د جندر رییس باید د سرچینو د تخصیص په ګډون د پروګرامونو په جوړولو کې ګډون وکړي،ترڅو د جندر له مساوات څخه دفاع تر لاسه شي. | | | | | |

## موندنې:

فساد او جندر دوه مرتبط او سره تړلي مفهومونه دي. جنسیتي نابرابروالی فساد ته لاره هواروي په تېره بیا هغه مهال چې سرچینې او امتیازات د یوه ارګان د ښځینه او نارینه کارکونکو تر منځ په مساویانه توګه ونه ویشل شي.[12] د دې تړلې اړیکې پر بنسټ، د اقتصاد وزارت، د فساد پر وړاندې دمبارزې په پلان کې د جندر مساوات په پام کې نیولي. په دې برخه کې د ټیم موندنې ښیي، چې وزارت د جندر په برخه کې کوم د جندر مسئول نه درلود، چې په لوړه کچه بحثونو کې د وزارت د جندر په هکله پالیسۍ ترتیب، اداره او پلي کړي[13]. اوس د جندر ریاست د جندر د یوه مشاور لخوا رهبري کېږي[14]. ټیم دا وموندله چې په وزارت کې د جندر نامساوات په لوړه کچه دي، ځکه چې د ښځینه مامورینو شمېر تر نارینه ډېر کم دی. خو د وزارت د بشري سرچینو ریاست بیا د ښځینه کارکونکو ټیټ ظرفیت د دې کار لامل بولي.

---

[11] د دولتي چارواکو د شتمنیو د ثبت په اړه له فساد سره د مبارزې د عالي اداري لارښود، د اقتصاد وزارت له مسئولینو او چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶، د مرغومي ۱۲مه، کابل افغانستان

[12] *https://www.sida.se/contentassets/١٦٥٦٧٢c٠e٢٨٨٤٥f٧٩c٨a٨٠٣٣٨٢e٣٢٢٧٠/gender-and-corruption.pdf*

[13] د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶، د مرغومي ۱۲مه ـ کابل، افغانستان

[14] د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶، د مرغومي ۱۳مه ـ کابل، افغانستان


| موخه | فعالیت | شاخص | مسئول واحد | پایله | لومړی نېټه | وروستی نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| رسمي اسنادو ته لاسرسی | د اسنادو د یوه نوي او جامع سیستم جوړول | د اسنادو پروسیجر د کابل په واحدونو کې تطبیقول<br>د اسنادو پروسیجر د ولایاتو په واحدونو کې تطبیقول | | | | | |

## موندنې:

رسمي اسنادو ته ساده او ژر لاسرسی او د هغوی په مناسبه توګه ساتل ډېر مهم دي، چې په یوه ارګان کې له روڼتیا او حساب ورکونې څخه ډاډ تر لاسه شي. له دې امله اقتصاد وزارت «رسمي اسنادو ته لاسرسی» د فساد په وړاندې خپلو فعالیتونو او هڅو د یوې برخې په توګه په پام کې نیولی دی. د ارزونې تیم موندنې ښیي، چې وزارت د اسنادو یو ډېر معیاري سیستم جوړ کړی، چې بې له کومه ځنډه رسمي اسنادو ته د لاسرسي اجازه ورکوي او یو پروسیجر یې جوړ کړی چې په مرکز او ولایاتو کې د پلي کېدو وړ دی.[۱۵]

| موخه | فعالیت | ځانګړنه | مسئول واحد | پایله | لومړی نېټه | وروستی نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مراجعینو ته اسانتیاوې برابرول | د یوه معلوماتي دفتر جوړول، تر څو مراجعینو ته د اړوندو موضوعاتو په هکله معلومات ورکړي. | یو دفتر جوړ شوی، چې مراجعینو ته اساسي خدمتونه وړاندې کوي. | | | | | |

## موندنې:



د افغانستان په ارګانونو کې له دولتي چارواکو سره د عامو خلکو مستقیمه اړیکه له فساد سره د مبارزې په لاره کې تل د یوه خنډ په توګه لیدل شوې. په بله وینا، دا کار خلکو ته لار هواروي چې دولتي چارواکو ته بډې ورکړي. د دې لپاره چې له دولتي چارواکو سره مستقیمه اړیکه له منځه یوړل شي، د اقتصاد وزارت د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په پلان کې د خدماتو د یوه واحد دفتر رامنځته کول په پام کې نیولی . عام خلک کولای شي د بیلابیلو خدماتو لپاره یاد دفتر ته د خدماتو د یوې واحدې مرجعې په توګه مراجعه وکړي. خو د اقتصاد وزارت دغه دفتر داسې یوه واحده مرجع نه ده چې مراجعین او متقاضیان دې د هر ډول خدماتو لپاره مراجعه

---

[۱۵] د اقتصاد وزارت د فایلنګ سیستم پروسیجر، ۱۳۹۶، د مرغومي ۴مه

ورته وکړي[۱۶]. د بېلګې په توګه د اقتصاد وزارت د ټولنیزو چارو خدماتو ریاست په ګډون د یاد وزارت ډېر داسې ریاستونه شته چې چې په یاد دفتر کې هېڅ شعبه او څانګه نه لري. د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم موندنې ښیي چې نوموړی دفتر یوازې څلور شعبې لري او د یوه کس لخوا اداره کیږي. نو دې چارې مراجعین اړ کړي چې د وزارت په دهلیزونو کې یوې او بلې خوا ته سرګردانه او لا لهانده وګرځي. د اقتصاد وزارت چارواکي وایي چې په نږدې راتلونکي کې د دغه دفتر د پیاوړي کولو پلان لري او د اقتصاد وزارت ټول اړوند ریاستونه به د خدماتو په دغه واحد دفتر کې شعبې ولري ترڅو له دې لارې د مراجعینو ټولو ستونزو ته په یوه واحد دفتر کې رسیدنه وشي.

| موخه | فعالیت | شاخص | مسئول واحد | پایله | لومړۍ نېټه | وروستۍ نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د الکترونیکي حکومتولۍ دودول | د مدیریت د معلوماتي سیستم پراختیا او سازماني کول.<br><br>په پراختیایي پروژو کې د ولایتي او مرکزي څارنې راپور سیستم جوړول، پراختیا، سازماني کول او قانوني کول. | د اقتصاد وزارت په ولایتي او مرکزي دفترونو کې عملیاتي او ستراتیژیک پلانونه او د هغوی د راپور ورکولو سیستم د انلاین سیستم له لارې فعال شوی.<br>د پراختیایي پروژو د لړۍ سیستم په ولایتي او مرکزي کچه د یوه انلاین سیستم له لارې په ټولو بودیجوي واحدونو کې فعال شوی.<br>په پراختیایي پروژو کې د ولایتي او مرکزي څارنې راپور سیستم جوړول، پراختیا، سازماني کول او قانوني کول. | | | | | |

## موندنې:

الکترونیکي حکومتولي بله هغه بنسټیزه وسیله ده، چې د فساد په ضد کارول کېدای شي. ځکه نو د اقتصاد وزارت تصمیم نیولی چې په خپلو واحدونو کې الکترونیکي حکومتولۍ ته پراختیا ورکړي. د څارنې او ارزونې کمیټې ټیم موندنې ښیي چې وزارت یو پیاوړی معلوماتي مدیریتي سیستم جوړ کړی، چې په ولایتي او مرکزي کچه راپور ورکول پکې شامل دي.[۱۷] وزارت معلوماتي مدیریتي سیستم پیاوړی کړی، چې کولای شي خپل عملیاتي او ستراتیژیک پلانونه انلاین سیستم ته واړوي. پر دې سربېره، د دغه سیستم له لارې وزارت کولای شي چې د پروژو پرمختګ لړۍ په ټولو بودیجوي واحدونو کې په انلاین توګه په مرکز او ولایتونو کې وڅاري او تعقیب یې کړي. له دې څخه په ډاګه کېږي، چې معلوماتي مدیریتي سیستم د پروژو د پرمختګ روڼتیا او حساب ورکونې کچه زیاته کړې ده.

---

[۱۶] د ارزونې ټیم لیدنې، ۱۳۹۶، د مرغومي ۱۶مه، کابل- افغانستان

[۱۷] د ټیم لیدنې او د معلوماتي مدیریتي سیستم له ټیم سره مرکه، ۲۰۱۸، د جنوري ۷مه، کابل- افغانستان

# په بشري سرچینو کې روڼتیا او حساب ورکونه

د وړتیا او ښایسته سالارۍ اصل پر بنسټ د کارکونکو نه ګمارل او د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو نه تطبیق لا تر اوسه د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت په مخ کې یوه ستره ننګونه ګڼل کیږي ، چې د افغانستان دولت له ۱۶ کالو راهیسې له دغې ستونزې سره لاس او ګریوان دی. د څارنې او ارزونې کمیټې د هغې ارزونې موندنې چې په ۱۳۹۲ کال کې د دولتي ادارو د کارکونکو د ګمارنې د پروسې په اړه تر سره شوې، ښیي چې د لومړي او دویم بستونو کارکونکي تل د شخصي اړیکو او خپلوي پالنې پر بنسټ پر دندو ګمارل کیږي.[18] د دې لپاره چې د دې مفسدې لړۍ مخه ونیول شي، د اقتصاد وزارت خپلو د بشري سرچینو فعالیتونه د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان کې په لومړیتوب کې نیولي دي. دا لومړیتوب پنځه فعالیتونه لري چې په لاندې ډول بیان شوي دي.

| موخه | فعالیت | شاخص | مسئول واحد | پایله | لمړی نېټه | وروستی نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د بشري سرچینو د مدیریت پراختیا | د مامورینو د کړنو د ارزونې ترسره کول | د کار او ملکي خدمتونو له قانون سره سم د ټولو مامورینو د کړنو ارزونه | | | | | |

## موندنې:

د کارکوونکو ترفیع او تنزیل د بشري سرچینو د مدیریت او همدارنګه د فساد د مخنیوي په برخه کې خورا مهم ګڼل کیږي. د افغانستان په دولتي ادارو کې له مجازاتو څخه معافیت اوس هم یوه لویه ننګونه ګڼل کیږي. له دې لپاره چې دا ننګونه له منځه یوړل شي، د اقتصاد وزارت د هېواد د کار او ملکي خدمتونو د قانون پر بنسټ د فعالیتونو د ارزونې یوه معیاري پروسه رامنځته کړې. په ۱۳۹۶ کال کې د بشري سرچینو ریاست د وزارت د ۵۹۲ کارکونکو کړنې وارزولې. په دوی کې ۲۱۶ تنو ارتقا وکړه، ۳۷۳ کسان د ارتقا حق او وړتیا نه درلوده او یوازې یو کارکونکی منفک شوی.[19] دا کړنې د دې ښکارندویې دي چې وزارت خپل د بشري سرچینو مدیریت ته ډېر اهمیت ورکړی او معلومه شوې چې خپلو ښو کارمندانو ته یې ارتقا ورکړې او کم کاره کارکوونکي یې تنزیل کړي.

| موخه | فعالیت | شاخص | مسئول واحد | پایله | لومړی نېټه | وروستی نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د بشري سرچینو د مدیریت پراختیا | الکترونیکي حاضري جوړول | الکترونیکي حاضري جوړه شوې | | | | | |

## موندنې:

په دولتي دفترونو او ادارو کې الکترونیکي حاضري ځکه کارول کیږي چې د حاضرۍ څخه د ناوړه ګټې اخیستنې او له کاره د کارکونکو د تېښتې څخه مخنیوی وشي او د کارکونکو حاضري په سمه توګه تعقیب او څارل شي. مخکې د افغانستان په دولتي ادارو کې حاضرۍ په لاسي توګه ثبتېدلې، چې درغلۍ پکې ډېرې لیدل کېدې. د دې لپاره چې د کارکونکو په حاضرۍ کې روڼتیا رامنځته شي، د اقتصاد وزارت د خپلو دواړو محوطو په دروازو کې بربښنایي حاضرۍ تنظیم او نصب کړې. د ارزونې ټیم موندنې

[18] http://www.mec.af/files/VCAReportCSC.pdf

[19] د اقتصاد وزارت د بشري سرچینو له ریاست لخوا ارایه شوي اسناد، ۱۳۹۶ د مرغومي ۱۳مه.

دا ښيي چې ټول کارکوونکي اړ دي چې د نوي الکترونيکي سيستم له لارې خپله حاضري ورکړي. خو څنګه چې دا په وزارت کې یو نوی سیستم دی، د وزارت  کارکونکي ځينې وختونه په عمدي ډول او  یا هم سهواً د الکترونيکي حاضرۍ کارول هيروي. د دې لپاره د بشري سرچينو رياست پر هغو کارکونکو نقدي جريمه وضع کړې چې الکترونيکي حاضرۍ يې جدي نه نيسي. د بشري سرچينو وروستی راپور دا په ډاګه کوي چې د وزارت دسلګونو کارمندانو معاش ګرځول شوی، چې لوړپوړي چارواکي هم پکې شامل دي، ځکه د الکترونيکي سيستم ريکارد ښيي چې غيرحاضر دي.[۲۰]



| موخه | فعالیت | شاخص | مسئول واحد | پایله | لومړۍ نېټه | وروستۍ نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د بشري سرچينو د مديريت پراختيا | د دندې پر مهال رسمي جامې اغوستل او پېژند کارت کارول | د اقتصاد وزارت د موټر چلوونکو په ګډون خدماتي کارکوونکي د دندې پر مهال رسمي جامې اغوندي. | | | | | |

## موندنې:

د دې لپاره چې مستقيمې اړيکې بندې شي او د کارکوونکو د هويت له تشخيص څخه ډاډ تر لاسه شي ، وزارت له خپلو کارکوونکو غوښتي چې د دندې پر مهال رسمي جامې او يونفورم واغوندي او پر خدماتي کارکوونکو يې ځانګړې جامې وېشلي دي. په داسې حال کې چې د اقتصاد وزارت مشرتابه د دغه فعاليت تطبيق ته ژمن دی ؛ خو د ارزونې د ټيم موندنې ښيي، چې د اقتصاد وزرات د رهبرۍ دا امر په ټوليزه توګه نه دی تطبيق شوی او د وزارت کارمندانو د یونيفورم له اغوستو ظاهراً ډډه کړې.[۲۱]  د دغه بې پروايې

[۲۰] د ارزونې ټيم ته ورکړل شوی راپور، ۱۳۹۶، د مرغومي ۱۳مه.

[۲۱] د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان د بیاکتنې پر مهال د ټيم ليدنې، ۱۳۹۶، د مرغومي ۱۱-۲۵، کابل- افغانستان

بنسټیز دلیل دا دی چې د افغانستان هیڅ دولتي اداره د کارکونکو لپاره  د جامو اغوستلو رسمي او لیکې پالیسي نه لري.

| موخه | فعالیت | شاخص | مسئول واحد | پایله | لومړۍ نېټه | وروستۍ نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د بشري سرچینو د مدیریت پراختیا | د تجربې، مهارتونو او وړتیا پر بنسټ د کارکوونکو ګمارل | هغه لومړي او دویم بستونه چې د پایلو لپاره د ظرفیت جوړونې پروګرام (سي. بي. آر) له لارې استخدام شوي نه دي، ډېر ژر اعلانیږي او کارکونکي د سي. بي. آر پروګرام له لارې ګمارل کېږي.<br>په ملي کچه ټول درېیم او څلورم بستونه اعلانېږي او ګمارنه د (سي. بي. آر) له لارې کېږي.<br>ټول پنځم او شپږم بستونه اعلانېږي او بریالی کاندیدان د رتب معاش دسیستم له لارې ګمارل کیږي. | | | | | |

## موندنې:

له هغه وخته چې د دولتي ادارو د کارکونکو د ګمارنې واک د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو  خپلواک کمیسیون (*IARCSC*) ته لیږدول شوي، نو د اقتصاد د وزارت په شمول د ټولو وزارتونو د کارکونکو د  ګمارنې چارې یاد کمیسیون ته ورسپارل شوې دي. خو بیا هم د ملکي کارکوونکو د ګمارنې په لړۍ کې د اړونده وزارتونو د بشري سرچینو ریاستونو ونډه د پام وړ ده. نو په دې بنسټ نوموړی فعالیت د اقتصاد د وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان کی شامل شوي. د ارزونې ټیم موندنې دا په ډاګه کوي چې یاد وزارت پدې برخه کې لویې لاسته راوړنې  لري او هغه دا چې یاد وزارت د سي بي آر (*CBR*) پروګرام پر بنسټ شاوخوا ۸۰ بستونه  د یوې شفافې او عادلانه پروسې  له لارې ډک کړي دي.[۲۲] په یادو  بستونه کې په کار پوه او وړ کسان ګمارل شوی دی نو ځکه  د نورو وزارتونو په پرتله په یاد وزارت کې د ناکامه نوماندانو لخوا شکایتونه هم کم وو.[۲۳]

| موخه | کړنه | شاخص | مسئول واحد | پایله | پیل | وروستۍ نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د بشري سرچینو د مدیریت پراختیا | اقتصاد وزارت د کار کوونکو د ظرفیت د لوړولو په موخه د ټرینینګ د پروګرامونو پلي کول | د ظرفیت د ارتقا اړینه ارزونه بشپړه شوه<br>د ظرفیت د ارتقا پلان جوړ شوی<br>د ظرفیت د ارتقا پلان پلي شویدی | | | | | |

---

[۲۲] د اقتصاد وزارت د بشري سرچینو ریاست سره مرکه، ۱۳۹۶ کال د مرغومي د میاشتې له ۱۳ څخه تر ۱۷مه، کابل، افغانستان

[۲۳] اقتصاد وزارت د بشري سرچینو ریاست سره مرکه، د ۱۳۹۶ کال د مرغومي د میاشتې ۱۳مه، کابل، افغانستان

## موندنې:

په تېرو ۱۷ کلونو کې، د افغانستان په دولتي ادارو کې د کارکونکو ټیټ ظرفیت یوه لویه ستونزه وه. د اقتصاد وزارت تر اوسه له دې ننګونې سره مخ دی او په سمه توګه نشي کولای چې خپلې عملیاتي چارې او پالیسۍ په اغېزمنه توګه پلي کړي. له همدې امله د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې په پلان کې د خپلو کار کوونکو د ظرفیت لوړوالو ته ځای ورکړي دی. د څارنې او ارزونې کمیټې(*MEC*) موندنې ښيي چې د بشري سرچینو ریاست د وزارت د ټولو واحدونو لپاره د روزنې د اړتیا ارزونه *(TNA)* تر سره کړې او هر کارکوونکي ته د هغې د ارزونې پر بنسټ د روزنې فرصت ورکړل شوې. د روزنې د اړتیا د ارزونې *(TNA)* لومړیتوبونه په لاندې ډول دي:

۱. نویو ګومارل شوو کارکوونکو ته لارښوونه او له ادارې او کارکونکو سره معرفي کول
۲. مدیریت (منجمنت)
۳. حقوقي پوهاوی
۴. نړیوال تحصیلي بورسونه او د کار آموزۍ فرصتونه
۵. د لیسانس او ماسټرۍ بورسونه



د څارنې او ارزونې کمیټې (*MEC*) سره شریک شوي راپورونه په ډاګه کوي چې د اقتصاد وزارت سلګونه کارکوونکو ته یاد فرصتونه ورکړل شوي دي. د بشري سرچینو ریاست د روزنې او ټرینینګ د اړتیا د ارزونې پر بنسټ د وزارت د کار کوونکو لپاره دا فرصتونه وړاندې کړي دي، خو روزنیزو پروګرانونو ته د کارکونکو د معرفي کولو په لړۍ کې کله غیر مستقیمې او یا هم ځینې مهال مستقیمې مداخلې کیږي.[۲٤] له بله پلوه د پورته لومړیتوبونو یوه زیاته برخه د کارکونکو انساني مهارتونو(*Soft skills*) ودې ته ځانګړي شوې، په داسې حال کې چې کیداي شي یاد مورد د لوړ پوړو او رهبرۍ کچې کارکونو د دندو د لایحې یوه برخه وي. د تېرو دوو لسیزو په لړ کې، د نړیوالو مرستو یوه لویه برخه پیسې د ملکي کارکونکو د انساني مهارتونو (*Soft skills*) پر ودې او لوړولو لګول شوې دي. اوس ددې وخت رارسیدلی دی چې وړ او مسلکي کسان پر دندو وګمارل شي او یا هم لوړ پوړو مدیرانو او رییسانو ته دنده ورکړل شي چې د دوی د دندو د لایحو پر بنسټ هغو کسانو ته روزنه ورکړي چې وړتیاوې یې ټیټې دي.

د اقتصاد وزارت په ګډون په ټولو دولتي ادارو کې د روزنیزو پروګرامونو د اغیزمنتیا د ارزونې په موخه د ځانګړی او مشخص لارښود یا کړنلارې نه شتون په دې برخه کې یوه بله تشه ګڼل کیږي.[۲٥] د دغه ډول یوه لارښود د نه شتون له امله، د یادو روزنیزو پروګرامونو ډېری ګډونوال په دې نه دي توانیدلي چې په خپلو ادارو واحدونو کې اړین بدلون راولی او خپلې هغه تجربې او مهارتونه چې په ځانګړي توګه یې له هیواد څخه بهر له روزنیزو پروګرامونو څخه یې ترلاسه کړي دي له خپلو همکارانو سره شریک کړي

---

[۲٤]د اقتصاد وزارت د ظرفیت د ارتقا رپورت، ۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۱۶مه، کابل، افغانستان
[۲٥]د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۱۷مه، کابل، افغانستان

# د تدارکاتو په پروسه کې روڼتیا او حساب ورکونه

د تدارکاتو پروسه د وزارتونو د نورو برخو په پرتله د فساد پر وړندې ډیره زیانمنونکې ده، د بیلګې په توګه پروژې او قرادادونه ځانګړو شرکتونو ته ورکول کیږي، د پروژې واقعي لګښت د مارکیټ له بیې زیات تخمین کېږي. د دې لپاره چې د داوطلبۍ پروسه وګټي شرکتونه له یو بل سره په ګډه او د دولتي کار کوونکو سره په تباني کې قراردادونه ترلاسه کوي. د دې لپاره چې د دې ستونزې مخه ونیول شي، په دې موخه د اقتصاد وزارت، له فساد سره د مبارزې په پلان کې د تدارکاتو چارو ته لومړیتوب ورکړی. دا لومړیتوب درې فعالیته لري او په لاندې ډول دي.

| موخه | کړنه | شاخص | مسئول واحد | پایله | پیل | وروستۍ نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د وزارت د تدارکاتو په لړۍ کې د روڼتیا راوستل | د اقتصاد وزارت او د تدارکاتو ملي اداره په وېبپاڼو کې د تړونونو خپرول چې د موسسې په کړنو کې روڼتیا او حساب ورکونه زیاته شي. | ټول هغه تړونونه چې تر ۵۰۰۰۰ افغانیو زیات دي د اقتصاد وزارت او ملي تدارکاتو په وېبپاڼه کې خپاره شوي دي. | | | | | |

## موندنې:

تدارکاتي قرارداونو ته مساوي لاسرسی د تدارکاتو په لړۍ کې روڼتیا رامنځته کوي او د فساد کچه کموي. په ډېرو دولتي ادارو کې د څارنې او ارزونې کمیټې (*MEC*) موندنې ښيي چې د تدارکاتي قراردادونو ټول جزییات له ټولو قراردادیانو سره نه شریکیږي. د تدارکاتو مامورین او مسوولین ځینې وختونه ناقص اعلانات په جعلي توګه خپروي چې څېړونکي وغولوي او هغوی ته داسې وښيي چې پروژه د تدارکاتو له قانون سره سمه اعلان شوې ده. د اقتصاد وزارت تصمیم نیولی چې د هغو قرادادونو جزییات چې له ۵۰۰۰۰ افغانیو څخه زیات ارزښت لري د اقتصاد وزارت او د ملي تدارکاتو په وېبپاڼو کې خپاره کړي. د ارزونې ټیم موندنې دا په ډاګه کوي چې د اقتصاد وزارت د ۵۰۰۰۰ افغانیو څخه لوړ د قرادادونو ټول جزییات په پورتنیو دوو وېبپاڼو کې خپاره کړي.[۲۶]

د وزارت بل ښه ګام د خپلو ۱۸ ریاستونو لپاره (د تدارکاتو په ګډون) د یوې سټندرد عملیاتي کړنلارې یا (*SOP*) جوړول دي. دا سټندرد عملیاتي کړنلاره یا (*SOP*) به د ټولو تدارکاتي لړیو لپاره مشخص ضرب الاجلونه ټاکلي دي چې په لوړه کچه به له بډو څخه مخنیوی وکړي. د دې نوښت بله ښه ځانګړنه دا ده چې دغه سټندرد عملیاتي کړنلاره یا (*SOP*) د اقتصاد وزارت په ښېل بورډونو کې خپریږي چې د عامه وګړو لپاره په اسانۍ سره د لاسرسي وړ وي.[۲۷]

---

[۲۶]د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۱۸، کابل، افغانستان

[۲۷]د ارزونې د ټیم لخوا د ساحې کتنه، ۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۱۸، کابل، افغانستان




| موخه | کړنه | شاخص | مسئول واحد | پایله | پیل | وروستی نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د وزارت په تدارکاتو کې د روڼتیا رامنځته کول | د مالي او تدارکاتي کړنو لپاره د تعقیب سیستم جوړول. | د دې موخې لپاره سټندرد پروسیجرونه جوړ شوي او د تعقیب سیستم چمتو دی. د اقتصاد وزارت د اضافي شتمنۍ او ملکیتونو د ساتلو لپاره په شهرنو کې د اقتصاد وزارت په ودانۍ کې یو مرکزي زېرمتون جوړ شوی دی. همدارنګه د یاد زېرمتون لپاره د مدیریت سیستم هم جوړ شوی. | | | | | |

## موندنې:

ځینې وختونه په وزارتونو کې د تدارکاتو چارې پرته له کوم دلیله ځنډول کیږي. دا په دېره توګه د ثابتو قیمت لرونکو اجناسو تدارکات دي چې د یوه ځانګړي دلیل لپاره ځنډول شوي دي او معمولا دا هغه وخت دېر پېښېږي چې بدې اخیستل پکې ستونزمن وي. د دې لپاره چې له داسې سناریوګانو څخه مخنیوی وشي، د اقتصاد وزارت د تدارکاتي او مالي کړنو لپاره د تعقیب یو سیستم جوړ کړی دی. د ارزونې ټیم موندنې ښیي چې د معلوماتو د مدیریت سیستم یا (*MIS*) د همدې موخې لپاره جوړ شوی دی. د خریدارۍ غوښتنلیکونه په دې سیستم کې ثبتیږي او د وزارت له لوړپوړو چارواکو لخوا تعقیب کېدای شي.[۲۸] که غوښتنلیکونه د تدارکاتو او د لوژسیتک د کارکوونکو لخوا په ځانګړي غوښتل شوي وخت کې په پام کې ونه نیول شي، متخلفین په اسانۍ سره موندل کیږي او پر وړاندې یې اړین ګامونه اخیستل کیږي.

[۲۸] د اقتصاد وزارت د تدارکاتو ریاست سره مرکه او د (*MIS*) سیستم څخه لیدنه،۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۱۸، کابل، افغانستان

| موخه | کړنه | شاخص | مسئول واحد | پایله | پیل | وروستۍ نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د وزارت په تدارکاتي لړۍ کې د روڼتیا رامنځته کول | د اقتصاد وزارت د شتمنیو او ملکیتونو لپاره د شتمنۍ د شته سیستم جوړول. | د دفترونو او د مشاورینو په شمول د کارکوونکو لخوا کارول شوي اجناسو او شتمنیو ثبت بشپړ شوی دی.<br>د اقتصاد وزارت په ولایاتونو او مرکز کې د شتمنیو ثبت بشپړ شوی<br>د اقتصاد وزارت په موټرو کې جي پي اس ابښودل شوي دي. | | | | | |

## موندنې:



د شتمنۍ، توکو او ملکیتونو په سمه توګه ثبتول، د دې لامل ګرځي چې هغوی له ناوړه ګټه اخیستنې او خرابېدو څخه وساتل شي. پخوا د اقتصاد وزارت د شتمنۍ د مدیریت یو هر اړخیز سیستم نه درلود چې خپلې شتمنۍ او ملکیتونه وساتي. له همدې امله، د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان د یوې برخې په توګه، یاد وزارت پرېکړه کړې چې موجوده شتمنۍ په کمپیوټر کې ثبت کړي او همدارنګه د شتمنیو د مدیریت سیسټم رامنځته کړي. د ارزونې ټیم موندنې دا په ډاګه کوي چې وزارت په بریالۍ توګه خپلې ټولې شتمنۍ موجودې کړې او ثبت کړې دي او یو مرکزي زېرمتون یې هم ورته جوړ کړی دی.[۲۹] خو وزارت په دې کې پاتې راغلی دی چې د شتمنیو کمپیوټري سیستم د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان په ورکړل شوي وخت کې جوړ کړي. د ارزونې ټیم په داسې حال کې په دې برخه کې د مسوولې اداري له ناکامۍ خبر ورکوي چې په اړوندو ډیپارټمنټونو کې د شتمنیود موجودۍ لېست شتون نه لري او د ادارو پر شتمنیو ټګ نمر یا د برچسب شمیره هم نه ده نصب شوي.

---

[۲۹] د اقتصاد وزارت د شتمنیو د ثبت د ریاست سره مرکه او د اقتصاد وزارت له ګدام څخه لیدنه، ۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۱۸، کابل، افغانستان

# د انجوګانو په فعالیتونو کې روڼتیا او حساب ورکونه

غیر دولتي موسسې که هغه داخلي وي او که بهرنۍ باید غیر سیاسي او غیر انتفاعي وي.[۳۰] غیر انتفاعي په دې معنا چې انجوګانې نشي کولای په مستقیمه یا په غیر مستقیمه توګه یوه اندازه پیسې یا کوم بل ډول ګټه د بنسټ اېښودونکو، مدیره هیئت، کارکوونکو، مرسته کوونکو او یا د هغوی د خپلوانو د شخصي ګټو لپاره وکارول شي.[۳۱] په افغانستان کې د اقتصاد وزارت سره ۲۳۳۷ انجوګانې ثبت دي، چې ۲۶۸ یې بهرنۍ او ۲۶۹ یې کورنۍ دي او پاتې نورې یې فعالیت نه لري.[۳۲] په ۱۳۹۶ کال کې، فعالو انجوګانو ۹.۸۵۱ میلیونه ډالر د افغانستان دننه مصرف کړي دي.[۳۳] د انجوګانو د کار په هکله د لږو معلوماتو له امله، په بېلابېلو سکتورنو کې د هغوی اغېزمنتیا، له قانون سره د هغوی د کړنو سمون، د هغوی روڼتیا او حساب ورکونه د خلکو او د افغانستان د دولت لپاره د پوښتنې وړ موضوعګانې دي. له دې امله د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې په پلان کې د انجوګانو حساب ورکونه او روڼتیا په خپلو لومړیتوبونو کې نیولې ده.

دا لومړیتوبونه پنځه کړنې لري او په لاندې ډول تشریح او تحلیل شوې دي:

| موخه | کړنه | شاخص | مسئول واحد | پایله | پیل | وروستی نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په انجوګانو کې د روڼتیا او حساب ورکونې زیاتول | د انجوګانو د قانون بیا کتنه او تعدیل | د انجوګانو له قانون څخه بیا کتنه وشوه | | | | | |

## موندنې:

د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان دکړنو د یوې برخې په توګه د انجوګانو په قانون کې لاندې تعدیلونه پېشنهاد کړي دي.[۳٤]

۱. د غیر سیاسي او غیر انتفاعي انجوګانو او د ملکرو ملتونو د نمایندګیو تشخیص

۲. د انجوګانو د ملکیتونو د کارونې او تنظیم په برخه کې زیاتوالی

۳. په ولایتونو او مرکز کې د نمایندګیو جوړول

۴. د کورنیو انجوګانو د راجسترولو لپاره د (۲۵۰۰ افغانیو) او د بهرنیو انجوګانو د راجسترولو لپاره (۲۰۰۰ ډالرو) فیس زیاتول

۵. د انجوګانو د کلني رپورټ خپرول

---

[۳۰] عدلیې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ، د انجوعګانو قانون، ۵ ماده، ۱۳۸۴ د ورې د میاشتې ۸مه.

[۳۱] د عدلیې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ، د انجوعګانو قانون، ۵ ماده، ۱۳۸۴ د ورې د میاشتې ۸مه.

[۳۲] د ارزونې ټیم ته ورکړل شوي اسناد، ۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۱۹ مه.

[۳۳] د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه انجوع، ۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۱۹ مه، کابل، افغانستان

[۳٤] د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه انجوع، ۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۲۰ مه.، کابل، افغانستان

اوسمهال اصلاحات د عدلیې وزارت د تقنین د ریاست لخوا بیا کتل کیږي.

| موخه | کړنه | شاخص | مسئول واحد | پایله | پیل | وروستی نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په انجوګانو کې د روڼتیا او حساب ورکونې زیاتول | د انجوګانو په ریاست کې به د هر یوه سکتور (روغتیا، زده کړه، کرنیز او ټولنیز خدمتونه) لپاره یو عمومي کوردیناتور وګومارل شي. | د هر یوه سکتور (روغتیا، زده کړه، کرنیز او ټولنیز خدمتونه) لپاره یو ملي کوردیناتور ګومارل شوی | | | | | |

## موندنې:

په تېرو دوو لسیزو کې د نا دولتي موسسو ( انجوګانو) لخوا په بېلابېلو برخو کې په لویه کچه پیسې لګول شوې دي. داسې ویل کیږي چې دا پروژې د افغانستان دانکشافی لومړیتوبونو پر اساس ندي غوره شوي. د دې سربیره د افغانستان جمهور رییس د غیر دولتي موسساتو په لومړني ملي کنفرانس کې چې د "انډولې پراختیا او بې وزلۍ په کمولو کې د غیر دولتي موسسو اهمیت او رول" تر عنوان لاندې په کابل کې دایر شوی ؤ، وویل "باید د غیر دولتي موسسو د تېرو ۱۷کلونو فعالیت په بنسټیزه توګه وڅېړل شي، په دې څېړنه کې باید روښانه شي چې انجیوګانو څومره پیسې لګولې، پایلې او لاسته راوړنې یې څه پاتې شوې او موږ کومه پایله ترې اخلو او اغېزمنو کارونو ته یې څنګه پراختیا ورکړل شي"[۳۵] .. له دې امله د اقتصاد وزارت د همغږۍ کونکو ګمارل د فساد پر وړاندې د مبارزې په پلان کې شامل کړي دي چې هغه پروژې چې د انجوګانو لخوا پلې کیږي ټاکلې پایلې تر لاسه او د غیر دولتي موسساتو په داخلي امورو کې د روڼتیا او حساب ورکونې د پیاوړتیا لامل وګرځي..[۳٦] ولسمشر زیاته کړه چې غیر دولتي موسسات باید دولت او موسساتو تر منځ د همغږۍ او تشریک مساعی د پیاوړتیا په موخه خپلې برنامې د افغانستان اړتیاوو ته په پام طرحه کړي. د اقتصاد وزارت اوسمهال د افغانستان د دولت او غیر دولتي موسساتو تر منځ د همغږۍ د رامنځته کولو په موخه په یوه ټولیزه برنامه(*Roadmap*) کار کوي.

---

۳۵/غني-د-غیر-دولتي-موسسو-بودیجه-دې-څرګنده-شي*https://www.pajhwok.com/ps/*۲۰۱۸/۰۳/۱۱

۳٦د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه، ۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۱۸ مه.، کابل، افغانستان

د ارزونې ټیم موندنې ښیي چې همغږي کونکي د پوره بودیجې د نشتون له امله تر اوسه نه دې گمارل شوي.[37]

| موخه | کړنه | شاخص | مسئول واحد | پایله | پیل | وروستۍ نېټه | گواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په انجوگانو کې د روڼتیا او حساب ورکونې زیاتول | د څارنې او ارزونې یو کاریچوکاټ باید جوړ شي او هغه باید د انجو گانو د سیمه ییزو دفترونو د څارنې او ارزونې لپاره وکارول شي چې وکتل شي چې انجوگانې د پراختیایي پروژو د پلي کولو لپاره د افغانستان دولت له غوښتنې سره سم پوره بودجه، بشري سرچینې، لوژیستیکي او مدیریتي ظرفیت لري او که نه. | د انجوگانو د مرکزي او ولایتي دفترونو لپاره د څارنې او ارزونې چارچوکات جوړ شوی. | | | | | |

## موندنې:

د اقتصاد وزارت پلان نیولی چې د انجوگانو د دفترونو لپاره د څارنې او ارزونې کاري چوکاټ ته د ولایاتو او مرکز په کچه پراختیا ورکړي. د دې کاري چوکاټ ځانگړې موخه دا ده چې په دوامداره توگه د انجوگانو ظرفیت په بېلابېلو برخو کې وڅاري او وې ارزوي، لکه مدیریت، مالي، بشري سرچینې او تدارکات او همدارز چې د انجوگانو د راپور ورکونې په سیستم کې روڼتیا زیاته کړي. د ارزونې  ټیم موندنې ښیي چې وزارت د سرچینو د کمښت له امله دا کار نه دی تر سره کړی. د کافي بودیجې کمښت د اقتصاد وزارت اړ کړی دی چې د څارنې او ارزونې د پراختیا  کاري چوکاټ له قراردادی سره قرارداد کړي.۳۸  د انجوگانو په وروستي ملي کنفرانس کې ولسمشر د یو میکانیزم د پراختیا دستور ورکړ او د اقتصاد وزارت له نورو اړوندو وزارتونو سره په سمه توگه دا کړنه تعقیبوي او د اقتصاد وزارت د چارواکو په وینا به دا میکانیزم ډېر ژر پراختیا ومومي.

| موخه | کړنه | شاخص | مسئول واحد | پایله | پیل | وروستۍ نېټه | گواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په انجوگانو کې د روڼتیا او حساب ورکونې زیاتول | د انجو گانو سیمه ییز دفترونه په ولایاتو او مرکز کې باید وڅارل شي او وارزول شي او د ارزونې راپورونه یې باید هر کال واستول شي. | ملي او نړیوالو انجوگانو سیمه ییز دفترونه د روغتیا، زده کړې، کرنې او ټولنیزو  خدمتونو سکتورونو کې بنسټیزې پروژې پلي کوي. | | | | | |

## موندنې:

د  انجوگانو د  قانون پر بنسټ د اقتصاد وزارت مکلف دی چې انجوگانې ثبت او راجستر کړي او د هغوی فعالیتونه په افغانستان کې همغږې او ترې څارنه وکړي. انجوگانې د قانون پر بنسټ اړې دي چې باید په کلنۍ توگه دخپلو مالي چارو په هکله ډونرانو یا مرسته کوونکو، مالیې وزارت او اقتصاد وزارت ته راپور ورکړي.[39]  د ارزونې ټیم موندنې ښیي چې د اقتصاد وزارت د انجوگانو ریاست

---

[37]د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه۱۳۹۶،  د مرغومي د میاشتې ۲۰ مه.، کابل، افغانستان

[38]د اقتصاد وزارت له چارواکو سره مرکه ، انجوع، ۱۳۹۶ د مرغومي د میاشتې ۲۰ مه.، کابل، افغانستان

[39]د عدلیې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د انجوع گانو قانون، ۲۷ ماده، ۱۳۸۴ د وري د میاشتې ۸ مه.

پوره بشري سرچينې نه لري چې په سمه او اغېزمنه توګه د انجوګانو کړنې او فعاليتونه وڅاري او وېې ارزوي او پر ځای يې د انجوګانو رياست يوازې په کلني راپور باندې اکتفا کوي چې انجوګانې يې ورکوي او همداراز ساحوي څارنه او ارزونه نشته.

قانون وايي: «هغه انجوګانې چې په کلنۍ توګه د خپلو مالي چارو راپور نشي ورکولای بايد لغوه شي.»[40] د ارزونې ټيم موندلي چې ۱۸۰۰ انجوګانې له همدې امله لغوه شوي دي.

| موخه | کړنه | شاخص | مسئول واحد | پايله | پيل | وروستۍ نېټه | ګواښ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په انجوګانو کې د روڼتيا او حساب ورکونې زياتول | د انجوګانو د څارنې او همغږۍ لپاره د الکترونيکي سيستم جوړول او پراختيا. | | | | | | |

## موندنې:

مخکې تر دې، انجوګانې به په اقتصاد وزارت کې په دوديز او سنتي ډول په لاس ثبت او راجستريدې، چې د انجوګانو د ثبت او راجستر دغه شان دوديزه او سنتي پروسه  فساد او کارکونکو سره مستقيمو اړيکو ته لاره هواروله.. د دې لپاره چې د يادې ستونزې مخه ونيول شي، د اقتصاد وزارت پريکړه وکړه چې د انجوګانو د ثبت او راجستر لړۍ دې په کمپيوټري بڼه پر مخ يوړول شي.
د ارزونې د ټيم  موندنې ښيي چې انجوګانې اوس په منظم ډول په برېښنايي توګه ثبت او راجستريږي او  اوس دې ته اړتيا نشته چې د انجوګانو موسسين دې د خپلو انجوګانو د ثبت او راجستر لپاره وزارت ته راشي. د فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې داسې يوه کړنه په لوړه کچه د ستاينې وړ ده.[41] خو د انجوګانو موسسين په کابل کې د اقتصاد وزارت د رهبرۍ  له دغو څرګندونو سره خپل کلک مخالفت ښيي او وايي کله چې دوی د کار جواز نوی کوي او يا هم د  نوی جواز د اخيستلو غوښتنه کوي د وزارت کارکوونکي په ډېرې بيشرمۍ سره له دوي نه د بډو غوښتنه کوي. خو  د اقتصاد وزارت مشرتابه دې ته ليواله دی چې داسې قضيې تعقيب کړي او له انجوګانو غواړي چې په دې برخه کې دې اسناد وړاندې کړي ترڅو ياد  وزارت په فساد ککړ کارکوونکي عدلي او قضايي ارګانو ته  معرفي کړي.[42]

[40] د عدليې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د انجوع ګانو قانون،۳۵ ماده، ۱۳۸۴ د ورې د مياشتې ۸مه.

[41] د اقتصاد وزارت د انجوع ګانو رياست سره مرکه، ۱۳۹۶ د مرغومې د مياشتې ۲۰مه.

[42] په کابل کې د انجوع ګانو سره مرکه، ۱۳۸۳ د سلواغې د مياشتې ۱۶مه، کابل، افغانستان

# د څارنې او ارزونې پړاو:

د څارنې او ارزونې  د یوه سم سیستم پرته دا تقریباً ناشونې ده چې د یوه پلان متوقعه پایلېترلاسه شي. څارنه او ارزونه د فساد  پر وړاندې د مبارزې د پلان په پرمختګ کې یوه منل شوې قاعده ده. په بله وینا هره اداره باید د یوه پلان د څارنې او ارزونې لپاره یو ځانګړی واحد ولري چې د فساد سره د مبارزې لپاره جوړ شوی وي. د اقتصاد وزارت یوه  داسې کمیته جوړه کړې چې په پرلپسې توګه د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان څارنه او ارزونه کوي. یاده کمیته له اداري او مالي معین، د استخدام له رییس، ریاستونو (مالي، بشري سرچینې، داخلي تفتیش، د مالیې وزارت کنټرول، انجوګانو، مدیران، طرح او تثبیت، پالیسي او مدیریت) څخه جوړه شوې ده. د کمیټې غړي میاشتنۍ ناستې لري او خپلې موندنې د اقتصاد وزارت عالي شورا ته وړاندې کوي.[٤٣]

د نوموړې کمیټې ربعوار راپورونه د فساد او د قانون د حاکمیت عالي شورا ته وړاندې کېږي. خو د اقتصاد وزارت اړوندو ریاستونو غونډو یادداښتونه او اخیستل شوي تصمیمونه دارزونې له ټیم سره شریک نکړل، چې دې مسلې ځینې پوښتنې را ولاړې کړې چې آیا یاده کمیته غونډې کوي، د اداري فساد سره د مبارې د پلان په هکله بحث کوي او د یاد پلان د پلي کولو لړۍ تعقیبوي او که نه.

---

[٤٣] د اقتصاد وزارت د فساد ضد پلان، ۱۳۹۶

# سپارښتنې

| شمېره | ارګان | سپارښتنه | موضوع | حالت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت باید د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان د خطر د ارزونې پر بنسټ جوړ کړي او د خطر ارزونه باید د فساد پلان له جوړولو مخکې تر سره شي. | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د اقتصاد وزارت د فساد د مبارزې  پلان د خطر د ارزونې پر بنسټ نه دې ترتیب شوی. | |
| ۲ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت د اداري فساد سره د مبارزې د پلان چمتو کولو د کمیټې د غړو شمېر زیاتوي او د غیر دولتي موسساتو او مدنې ټولنې په ګډون ټولنې ښکیلې غاړې په پروسه کې شاملوي | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د اقتصاد وزارت کاري شریکان د اداري فساد سره د مبارزې د پلان د چمتو کولو په پروسه کې شریک نه و | |
| ۳ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت دې د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان په هکله له اړوندو واحدونو او ادارو سره همغږي وکړي. | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان په هکله په پراخه توګه همغږي نه ده شوې. | |
| ۴ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت دې د شکایاتو یو دفتر جوړ کړي چې ترلاسه شویو شکایتونو ته رسیدنه وکړي. | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د اقتصاد وزارت د شکایاتو کوم دفتر نه لري. | |
| ۵ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت دې د شکایتونو د ترلاسه کولو په موخه د  تلیفون یوه ځانګړې شمېره رامنځته کړي. | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د اقتصاد وزارت د بودیجې د نشتون له امله، کومه شمېره نه ده تنظیم کړې چې شکایات واخلي. | |
| ۶ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت دې د ولایتونو په کچه د شکایاتو د اخیستلو سیستم جوړ کړي. | ۲۱ جنوري ۲۰۱۸ – د اقتصاد وزارت د ولایتونو په کچه د شکایاتونو د راټولولو کوم سیستم نه لري. | |
| ۷ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت دې یوه ارزونه پیل کړي چې د معلوماتو قانون ته د لاسرسۍ لپاره فوري اړتیاوې تثبیت کړي | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د اقتصاد وزارت کومه ارزونه نه ده تر سره کړې چې د معلوماتو قانون ته د لاسرسۍ لپاره فوري اړتیاوې تثبیت کړي | |
| ۸ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت دې د معلوماتو د قانون ته د لاسرسي لپاره د یوه پروسیجر د جوړولو لپاره یو کارمند وګوماري. | ۱۳۹۶ د کب ۱  – وزارت نه دی توانېدلای چې د ریاست په دفتر کې یو مدیر وګوماري او اړین پروسیجر او ستراتیژي جوړه کړي چې د فساد پر وړاندې د مبارزې له پلان سره سم قانون پلي کړي. | |
| ۹ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت دې د خدمتونو یو واحد دفتر جوړ کړي چې مراجعین د هر ډول خدمتونو لپاره ورته مراجعه وکړي. | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د اقتصاد وزارت داسې یو دفتر نه دی جوړ کړی چې مراجعین دې د هر ډول خدمتونو لپاره ورته مراجعه وکړي. | |
| ۱۰ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت باید د کارکونکو د انساني مهارتونو( *soft skills*  وده د لوړ رتبه مامورینو د دندو په لایحه کې  شامل کړي. | ۱۳۹۶ د کب ۱ – اوسمهال ډیری لومړیتوبونه د کارکونکو د انساني مهارتونو (*soft skills*)  پیاوړتیا ته ځانګړي شویدي. | |
| ۱۱ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت دې د ظرفیت د ارتقا د پروګرامونو د اغېزمنتیا د ارزونې لپاره یو لاربښود جوړ کړي | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د ظرفیت د ارتقا د پروګرامونو د اغېزمنتیا د ارزونې لپاره د یو پروسیجر د کمښت له امله، ډېر روزل شوي کسان دې ته نه دی اړ شوي چې په خپلو واحدونو کې اړین بدلونونه راولي او له ترېنېنګونو اخیستل شوي مهارتونه خپلو همکارانو ته ورزده کړي. | |
| ۱۲ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت دې د شتمنیو د مدیریت سیستم کمپیوټري کړي | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د اقتصاد وزارت د شتمنۍ د مدیریت یو کمپیوټري سیستم نه لري. | |
| ۱۳ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت د ې د بېلابېلو سکتورونو لپاره همغږي کونکي(کوردیناتوران) وګماري | ۱۳۹۶ د کب ۱  – د اقتصاد وزارت د بېلابېلو سکتورونو لپاره کوردیناتوران نه دي ګومارلي چې ډاډ تر لاسه شي چې هغه پروژې چې د انجوګانو لخوا پلي کیږي له (*ANDS*) سره سمې دي او که نه. | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت د انجوګانو د اصلي او فرعي دفترونو لپاره د څارنې او ارزونې یو کاري چوکاټ جوړ کړي | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د اقتصاد وزارت د انجوګانو د اصلي او فرعي دفترونو د څارنې او ارزونې لپاره نه د ولایتونو په کچه او نه هم د مرکز لپاره کوم چارچوکاټ لري. | |
| ۱۵ | د اقتصاد وزارت | د اقتصاد وزارت دې د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان د پلي کولو په هکله پرلپسې او دایمي ناستې ولري او پایلې یې دې وڅېړل شي او د غونډو یادداښتونه دې وساتل شي | ۱۳۹۶ د کب ۱ – د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان د پلي کېدو په هکله ناستې نه لري او د ناستو پایلې هم نه څېړل کېږي. | |